مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۰۷/۲۴

# غـزل

د بابا شمله دې هسکه کړه افغان شه
د جرګو او مرکو پښتونستان شه

د قلم جهاد دی فرض په هر وګړي
د بریا پر دغه لاره سم روان شه

د پګړی او لوپټي په ارزښت پوه شه
د ویاړونو د وطن نوم او نښان شه

چې د مور شیدې دې ځان ته شي حلالې
لکه ستوری ښه ځلانده په آسمان شه

یو پاڅون شه، یوه چغه، یو وجود شه
کربښې مه منه په منځ داسې کاروان شه

پسرلېه! د نیکونو میراث خپل کړه
په ژوندوني دې پوره دا ستر ارمان شه

مصطفی پسرلی
23/07/2019


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ